﴿ ۱۹ ﴾

# کره کتنه

ښاغلی زلمی هیوادمل !

زیری دوې درې وروستنۍ ګڼې مې وکتلې، د مضامینو تنوع، د چا پ ښه والی او صحت او نورې ښېګڼې یې د خوښۍ وړ دي. له پښتو ټولنې څخه تشکر دی چې دې خواته ئې توجه وکړه. او دا پاڼه ئې یوه ګټوره او ذوقي او د لوستلو او د ساتلو وړ کړه.

د لیکوالو او ښاغلو پوهانو مرسته او توجه دې خواته را اړول هم یو ګټور کار دی. ستا توفیق په دې لار کښې غواړم، او ټولو ښاغلیو لیکوالو چې ستا سره ئې مرسته کړې او دا جریده ئې په خپلو مضامینو ښایسته کړې ده. کور ودانی وایم امید کوم چې دغه معیار به وساتي او د پښتو په خدمت کښې به لا زیات بریالی يې.

تاسي ښاغلي لیکوالان ادبی کره کتني، نقد ته هم رابللي دي او دا ډېر ښه کار دی. ژبي ته ډېره ګټه لري او که په شخصي اهوا او اعراضو ککړ نه سي نو به ښې خبري او څېړني وسي. پخوا هم د پښتو ټولني د کابل مجلې د کرّه کتني یوه خاصه برخه لرله. په ۳۶ ګڼه کښې زما دوې خبري را په یاد سوې دلته ئې ستا او نورو ملګرو د توجه دپاره کاږم.

ښایي چې ملګرو او ښاغلو لیکوالو دپاره یوه ګټهوره یادونه وي :

(۱) : په دريم مخ کښي يوه ښکلې پتې ټولنپوهنه، ساپوهنه ،وګړپوهنه ليدله کيږي چي د سوسيالوجي او سايکالوجي او انتروپولوجي له پاره نوي جوړ سوي اصطلاحات ښکاري.

نه پوهېږم چي دغه اصطلاحات چا جوړ کړي او چا منلي دي؟

پخوا خو به پښتو ټولني دغسي کارونه د پوهانو او ليکوالو په سلا په يوه علمي غونډه کښي کوله. اوس نه پوهېږم چي څوك ئې کوي؟

ماته ټولنپوهنه او وګړپوهنه بده نه ښکاري ښايي چي د ديموګرافی له پاره هم د وګړي له وېي څخه کار واخلو خو د ساپوهني سره سخت مخالف يم، که ئې مطلب روانشناسي او روحيات وي. سا په پښتو کلمه سا، يا ساه ده او د روح او روان له پاره موږ "اروا" لرو چي ريښه ئې له روان سره مشترکه ده او په کوشاني ژبه کښي هم ال و - ارو ، د جان په معنی وه چي د سره کوتل په کتابه کښي سته او د اوستا او رونت = او روان د دري او پهلوي له روان او پښتو اروا سره برابر دي نو بايد د ساپوهني پرځای اروا‌پوهنه ووايو.

سا په پښتو کلماتو کښي د نفس په معنا ده لکه سا وهل:

"نفس زدن" سا لنډی ( نفس ښدی ضيق النفس) ساښدي (نفس بند شدن) سا کښل (نفس کشيدن) په سا وهل ( چيز خوردني را به مجرای تنفس فروبردن ) پهَ سړه سا (په ارامي) سړه سا ايستل (نفس سرد کشيدن) سا ورکول (تنفس بند شدن و مجاز مردن) په دې ټولو کښي سا د نفس معنا لري او د روح سره هيڅ اړه نه لري، روح او جان يا روان په پښتو (اروا) دي چي بايد په ليکنو کښي هره کلمه پر خپل ځان او په خپله معنا ووېله سي.



(۲) : د څېړنوال دوست ليکني ډېر ځله تحقيقي او د ګټي وړ وي خدای دي دده پر ځواني برکت کي. په رښتيا څېړنوال دی. ده په دريم مخ کښي د پښتو نالت کليمه په دوو معناوو له عربي لغت څخه راوتلې ګڼلې ده خو زه ئې د سر کوزي (خوك) په مفهوم سوچه پښتو بولم نه له عربي څخه راوتلي.

په پښتو کښي دغه بد ځناور په توصيفي ترکيبونو لکه سرکوزی، خريشوی مشهور دی زما په خيال چي اصلي موضوع نوم به ئې نالت وي چي پنځوس کاله پخوا ما د کندهار په ارغنداو کښي په دغه معنا اورېدلی وُ مگر عام لغت نه دی.

موږ ډيري داسي کليمې لرو چي په ظاهره له عربي يا دری څخه راوتلي ښکاري خو که څوك پسي وکرزي، خپلي اريايي ريښې لري. چي له هغو سره ښه نښلي، لکه د پښتو اپت چي ظاهراً له عربي افت څخه راوتلې ښکاري خو ريښه ئې د سنسکريټ له اپته سره مشترکه ده اومعنا ئې يوه ده.

په ظاهره د پښتو سدرۍ بايد د عربي صدر څخه جوړه سوې وي خو ريښه ئې د اوستا سدره ده چي کټ مټ دغسي لکه د پښتو يو د اغوستني کالي دي چي د عبادت پر وخت ئې موبد اغوندي.

اروا (روح) هم ځني خلك له عربي جمع (ارواح) څخه راوتلې بولي، مگر په خپله په آريايي ژبو کښي پخې ريښې لري ولي به ئې له ساحی (ارواح) سره نښلوو؟ نالت : که په فعلي او ترکيبي مفهوم د کول له مشتقاتو سره استعمال سي ښايي چي له عربي لغت څخه به وي مگر په اسمي ډول چي سر کوزي ته ووېل سي، سوچه پښتو به وي. په هرډول داسي ليکني د پښتو لوی قاموس دپاره مواد راټولوي، او بايد چ

ځېرونکی ئې وليکي او چاپ سي چي بيا پر خپل وخت له سندونو سره په لوی قاموس کښې ځای ومومي.

زه د زلمو دغسي ليکنو ته د قدر په سترگه گورم.

يوه د غور وړ خبره :

کله کله د مطبوعاتو يا د راډيو د خپرونو له خوا په پښتو کښــې ډېــر ښه کلمات يا نوی جوړ سوی اصطلاحات اروېدل او ليــدل کيــږي. مــثلاً وزلوبه د بزکشی پر ځای زما ډېره خوښه سوه، يا د بېلابېل کليمه خــورا خوږه ده او د گوناگون او متنوع او جداگانه پر ځای درېدای سي.

مگر کله کله داسي کلمات هم اروېدل کيږي چي تش محلي ارزښت لري. او پر ځای ئې نور عمومي کلمات سته چي گرده پښتانه ئې وايي او په پوهيږي او داسي کلمات يا تعبيرونه او اصطلاحات تــر محلــي مــوادو غوره دي بايد چي په ادبي ژبه کښې ځای ونيسي.

د مثال په توگه وايم : شا او تر شا د پښتو عامه وينا ده چي هر څوك ښه په پوهيږي لکه : تر شا سو، پر شا ولاړ، ددې محاورې پر ځای يــوه محلي اصطلاح په څټ سو هم سته، مگر څټ خو يوه خاصــه معنــا هــم لري او په څټ کېدل ټول پښتانه نه پېژني او څټ د شا پر ځــای نــه سـي درېدای.

بله خبره داده چي ځيني کليمې يا تعبيرونه او اصطلاحات داســي دي چي په يوه خوا کي ويل کيږي او يو خاص مفهوم اداء کو خو په بله خــوا کښې هغه مفهوم نه لري، بلکي بدي خبري هم گڼلي کيږي، نو دغســي مواد په مطبوعاتو او راډيو کښې خپرول ښه کار نه دی، او ادبي ذوق ئې نه مني، او پر اروېدونکو بده اغېزه هم کوي مثلاً : ژبه کول د وعــدې مفهوم د غربي خوا په محــاوره کښــي د احتجــاج او زبــان بــازی او بــې



شرمۍ معناوي لري. يا په گوته کول هم خورا بده معنا لــري. يــا تمــاس نيول يا تصميم نيول چي کورټ پښتــو نــه دي، او نــه زمــوږ خلــگ پــه پوهيږي ژبه کول به څوك د وعدې کولو پر ځای وايي خو بل ځای بــده معنا لري.

نو به دا ښه وي چي پر ځای ئې په خپله د پښتــو کلمــه ژمنــه کــول وليکو دا کلمه په پښتو ادب کښې د وعدې په معنا وبلــه کېــده لکــه پــه يوازي ډول د خوشحال دا وينا :

بله لمبه دي د وصل ژمنه ده
بــــله مي عين د زړه دننه ده

يا ژمنه کول مرکب اسم فعل :

خواږه عمر غوندي تلنه کوي ښه
په مدت د ديدن ژمنه کــــوي ښه

ښه کله چي په ژبه کښې موضوعه اصيله کلمه ولــرو څلــه بــه يــو داسي مرکب تعبير راوړو؟ چي هغه به په بله خوا پښتنو کښې بله او بده معنا ولري؟

په گوته کول هم دغسي ناوړه تعبير دی چي پــه عامــه پيښــو کښــي ټاکل يا ټاکنه ورته وايي او هغه لومړی مرکب اسم فعل بده معنــا لــري د "په گوته کړی ئې دی" پر ځای ويلای سو چي ټاکلی ئې دی، يــا نښــاني کړی ئې دی يا ئې ښوولی دی يا ئې نخښه کړی دی، او نور لکه نغــوتلی ... هغه کلمات او تعابير چي د پښتو په يوه بله خوا کښې رکيــك گڼــل کيږي او بده معنا ځنې اخلــي بايــد پــه ادبــي ليکنــو او دعــامو خلکــو د اروېدني او ليدني په چارو کښې استعمال نه سي. دغسي هم ځني نــاروا او رکيك نوی جوړ کړی تعبيرونه دي چي د پردو ژبو تقليــد پــر پښتــو

راتپل سوی دي لکه تصميم نيول، تشريف راوړل، رول لوبول چي خورا ناوړه دي او زموږ عام خلك کورټ نه پوهيږي. يو وخت زه وكيل التجار وم، زما يو هموطن له بمبی څخه راغی چي په دری ئې خبري کولې ما ورته وويل : کی تشريف اورديد؟

دی لومړی په تشريف اورديد نه پوهېدی وې ويل :

صاحب از بمبی زرد چوبه آوردم.

د پېښور پښتانه چي رول لوبوي يا تصميم نيسي واروي نو ډېر خاند چي دا بيا څنگه پښتو ده او څه معنا لري؟

تماس نيول خو بيخي بد تعبير دی مخصوصاً که له مؤنث سره وي.

دا ټول نوی او ناوړه تعبيرونه زموږ په ژبه کښي بدعتونه دي چي د تقليد له لاري پر پښتو باندي را اوښتي دي خو که موږ لږ څه فکر وکړو په خپلو محاورو او لهجو کښي يې اصيل او خورا خواږه سيالان موندلای سو.(۱)

(۱) کره کتنه ، د زيری جريدې د ۱۳۵۵- ۱۳۵۶ ه ش کلونو د دوو افتراحگانو مقالې. د قومونو او قبايلو وزارت د خپرونو څخه . ص ۱ ــ ۵ مخ پوري